**د قراداد ورکولو د پرېکړې په اړه خبرتیا**

**موضوع**: د حامد الفا د لوژستیکی خدماتو شرکت ته د قرارداد ورکولو د پرېکړې خبرتیا

د تدارکاتو قانون د درېِ څلویښتمې مادې د دویمې فقرې سره سم، له دې لارې ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک د آمریتونو لپاره د کاپیر، اسکنر، تیپ درایف او رم د چمتو او تدارکولو قرارداد د حامد الفا د لوژستیکی خدماتو شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د ۵۵۸۴۶ شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې په احمدشاه بابا مینه، دولسمه ناحیه د کابل په مرکز کې دی. د قرارداد ټولیزه بیه (۵,۸۷۵,۵۵۱) پنځه میلیونه او اته سوه اوپنځه اویا زره او پنځه سوه او یو پنځوس افغانی ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو په صورت کې دوی کولای شي چې د تدارکاتو قانون د پنځوسمې مادې سره سم خپله نیوکه په لیکلي بڼه د لاملونو په ذکر کولو سره د اعلان د خپرېدو له نېټې تر اوو تقویمي ورځو د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا وات کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د قرارداد د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته ذکر شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړېدو به قرارداد منعقد نه شي.